هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۲) ماه شوال ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه حمل ۱۴۰۵ هـ ش.

**بهترین هدیه والدین به اطفال شان تعلیم و تربیه سالم است**

# نوی ښوونیز کال د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شو




نوی ۱۴۰۵ ښوونیز کال د پوهنې وزارت د محترمې رهبرۍ، لوړو پوړو مسئولینو، د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د یو شمېر غړو، مېلمنو، علماء کرامو، استاذانو، ښوونکو، طالب العلمانو، زده کوونکو او د پوهنې وزارت د کارکوونکو په حضور کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شو.

یاد مراسم چې د کابل ښار د اماني عالي لیسې په تالار کې جوړ شوي وو، د قرآن عظیم الشان د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شول؛ ورپسې د پوهنې وزارت د دفتر لوی رئیس محترم شیخ محمد طاووس طارق لنډه وینا وکړه او په خپله وینا کې یې د علم او پوهې د ارزښت په هکله خبرې وکړې او له هېوادوالو یې وغوښتل چې خپل ماشومان مدرسو او ښوونځیو ته واستوي هغه زیاته کړه د ملک د ترقۍ او پرمختګ یوازینۍ لار د علم او پوهې لاس ته راوړل دي.

وروسته د پوهنې وزارت مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل د یاد وزارت د تېر کال د لاسته راوړنو یادونه وکړه او ویې ویل: «له لومړي تر شپږم ټولګي پورې نوی ښوونیز نصاب ترتیب او تر چاپ لاندې دی. همدارنګه په تېر کال کې د ۸۰۰ بابه ښوونځیو ودانۍ ترمیم او بیا رغول شوې دي.»

نوموړي په دې غونډه کې د یاد وزارت له لوري د اداري چارو د ساده کولو، د تعلیمي پروژو د بشپړولو، د ښوونیزو آسانتیاوو برابرولو او په ځانګړي ډول په لرې پرتو سیمو کې د متوازن تعلیمي پرمختګ د دوام یادونه وکړه.

په دې غونډه کې د ریاست الوزراء عالي مقام اداري مرستیال محترم الحاج مولوي عبدالسلام حنفي، د چارو اداري لوی رئیس محترم شیخ نورالحق انور او د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم شیخ شبر احمد حقاني د هېواد د پرمختګ او د ټولنې د سوکالۍ په برخه کې د علم پر ارزښت خبرې وکړې او د پوهنې وزارت د تېر کال د فعالیتونو او لاسته راوړنو ستاینه یې وکړه.

همدارنګه د مسئولینو د ویناوو تر څنګ د طالب العلمانو او زده کوونکو د ترانو د ګروپونو له لوري د علم د ستاینې په اړه په زړه پورې ترانې هم وړاندې شوې. وروسته د پوهنې وزارت د ستر سلاکار محترم مولوي عزیز احمد ریان له لوري د نوي تعلیمي کال د پیل په مناسبت د پوهنې وزارت اعلامیه ولوستل شوه.

غونډه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده له لوري د دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## برگزاری سیمینار معرفی سیستم ثبت الکترونیکی اسناد تقنینی و رهنمودهای وزارت معارف

سیمینار یک‌روزه معرفی سیستم ثبت الکترونیکی اسناد تقنینی و رهنمودهای وزارت معارف با حضور محترم مولوی محمداسحق حقیقی رئیس شورای علمی این وزارت ، مسئولان و کارمندان مربوط ریاست‌های مرکزی برگزار گردید.

رئیس محترم شورای علمی وزارت معارف در سخنان شان در این مراسم در مورد نقش تکنالوژی در پیشرفت امور اداری گفت: به تلاش‌های ریاست شورای علمی، ریاست‌های مالی و اداری و تکنالوژی معلوماتی، سیستم ثبت الکترونیکی اسناد تقنینی و رهنمودها در این وزارت ایجاد شده است که امروز ما شاهد برگزاری سیمینار آموزشی یک‌روزه برای معرفی آن هستیم.

وی همچنان در رابطه به سیستم یاد شده از نگاه فعالیت‌های تخنیکی صحبت نموده و معلومات عمومی را ارائه کرد.

کارشناسان ریاست تکنالوژی معلوماتی نیز در رابطه با بخش‌های تخنیکی سیستم یادشده معلومات ارائه کردند که مورد توجه و علاقه اشتراک‌کنندگان قرار گرفت.



## د جوزجان پوهنې په ریاست کې د یو باب کتابتون او یو آزموینتون پرانیستل

د جوزجان ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایې د پوهنې وزارت له لوري د زده‌کوونکو د استعدادونو د ودې او هغوی ته د عملي زده‌کړو زمینې برابرولو په موخه، د یاد ولایت د پوهنې په ریاست کې یو باب کتابتون او د ساینسي مضمونونو د عملي زده کړې آزموینتون د یوې غونډې په ترڅ کې چې په کې د جوزجان والي محترم الحاج مولوي عبدالله سرحدي، د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي لعل‌جان راشد، د علماوو شورا او د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو محترمو رئیسانو، یو شمېر دیني علماوو او پوهنې مسئولینو ګډون کړی وو پرانیستل شول.

د یاد ولایت والي په دې مراسمو کې وویل: پوهنه د ټولنې او اسلامي نظام د ملا تیر ګڼل کېږي او د ځوان نسل لپاره سالمې علمي، اخلاقي او عقیدوي زده‌کړې ډېر اهمیت لري.

همدارنګه د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم مولوی لعل جان راشد هم په خپلو خبرو کې وویل: د داسې تعلیمي مرکزونو جوړول د زده‌کوونکو د علمي ودې او د مطالعې د کلتور د پیاوړتیا په برخه کې مهم رول لري.

نوموړي زیاته کړه چې په دې کتابتون کې شاوخوا ۲۵۰۰ ټوکه علمي کتابونه په بېلابېلو عنوانونو کې موجود دي، چې زده‌کوونکي او د مطالعې مینه‌وال کولای شي د خپلو علمي معلوماتو زیاتوالي لپاره ترې ګټه واخلي.

## ترمیم و اعمار ده ها ساختمان مراکز تعلیمی در ولایت بامیان در سال گذشته

مسئولان در ریاست معارف ولایت بامیان می‌گویند که در جریان سال ۱۴۰۴ ش، کار ترمیم ۳۲ باب مکتب و مدرسه و ساخت تعمیرهای جدید برای ۳ باب مکتب در ولسوالی‌های سیغان و یکاولنگ نمبر۱ این ولایت، به هزینه بیش از ۱۶۴ میلیون افغانی تکمیل شده است. همچنان در این مدت ۱۳۷ کورس سواد آموزی و آموزش مهارت های حرفوی، ۳۴۸ شورای نهاد های تعلیمی، ۹۸ کتابخانه و ۳ باب لیلیه برای مدارس دینی در این ولایت نیز از سوی وزارت معارف فعال شده است. به گفته مسئولان با ساخت و ترمیم این ساختمانها زمینه آموزش بهتر در فضای امن برای ده ها هزار متعلم و طالب العلم فراهم شده است.

## په ننګرهار کې د "ښوونې او روزنې مؤثرې ودې" تر نامه لاندې سیمینار ترسره شو

په ننګرهار ولایت کې «د ښوونې او روزنې مؤثره ودې » تر سرلیک لاندې د یو همکار بنسټ په مرسته د یاد ولایت د شپږو ولسوالیو ۱۲۶ تنه مدیرانو او سرښوونکو لپاره ۳ ورځنی سیمینار تر سره شو.

د ننګرهار ولایت د پوهنې رئیس محترم شیخ محمد شریف حلیمي، د یاد سیمینار د پرانیستې په مراسمو کې دخپلو خبرو په ترڅ کې ګډونوالو ته وویل: له دې فرصت څخه اعظمي ګټه پورته او ترلاسه شوې پوهه او تجربې په خپلو تعلیمي ادارو کې پلې او له خپلو نورو همکارانو سره یې شریکې کړئ.

په همدې حال کې د سیمینار یو شمېر ګډونوالو هم ژمنه وکړه چې د سیمینار څخه تر لاسه شوي معلومات او تجربې به په خپلو ادارو کې پلي کوي تر څو هېوادوالو ته د ښه خدمت جوګه شي هغوی همداراز د یاد سیمینار له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او په راتلونکي کې یې د ورته نورو سیمینارونو د جوړېدو غوښتنه وکړه.

### در این شماره

مخ ۲ — راځئ چې دا ښوونیز کال د علم، هڅو او لاسته راوړنو په یو زرین فصل بدل کړو

مخ ۳ — د تعلیم او تربیې په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله پیغام

مخ ۳ — تلاش امروز، موفقیت فردا

سرلیکنه

## راځئ چې دا ښوونيز کال د علم، هڅو او لاسته راوړنو په يو زرين فصل بدل کړو

بسم الله الرحمن الرحيم
اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِين
وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

د نوي ښوونيز کال له پيل سره يو ځل بيا د علم او پوهې رڼا دملک په ګوټ ګوټ کې خپره شوه. په زرګونو طلاب العلم او زده کوونکي د مدرسو او ښوونځيو پر لور روان شول، څو د خپل ژوند د بدلون او روښانه راتلونکي لپاره نوې هڅې پيل کړي. دا يوازې يو عادي پيل نه دی، بلکې زموږ د ګران افغانستان د راتلونکي د جوړېدو لپاره مهم ګام دی. علم د انسان لپاره تر ټولو ستره شتمني ده علم هغه ځواک دی چې انسان له تيارو څخه د رڼا لور ته هدايت کوي، د ناپوهۍ ځنځيرونه ماتوي او د پرمختګ دروازې يې پر مخ پرانيزي. هغه څوک چې علم لري، نه يوازې خپل ژوند بدلوي، بلکې د ټولنې په پرمختګ کې هم مهم رول ادا کوي. اوسنۍ نړۍ د پوهې نړۍ ده هغه ملکونه چې تعليم ته لومړيتوب ورکوي، د اقتصاد، ټکنالوژۍ او پرمختګ په برخه کې مخکښ دي. موږ کولای شو د ښې او باکيفيته زده کړې په مټ د بريا تر لوړو څوکو ورسېږو، يو طالب العلم او زده کوونکی بايد هڅه وکړي چې د هر درس تر شا مفهوم درک کړي، نه دا چې يوازې يې حفظ کړي، کله چې زده کړه له ژورې پوهې سره مل شي، نو بيا د زده کړې اغېز څو برابره زياتيږي او زده کوونکو ته د نوښت او ابتکار ځواک وربښي.

د نوي ښوونيز کال له پيل سره چې طلاب العلم او زده کوونکي مدرسو او ښوونځيو ته ځي بايد د علم د ارزښت په اړه ژور درک او احساس ولري. دوی بايد پوه شي چې هره ورځ، هر درس او هره ساعت يو قيمتي فرصت دی چې بايد په اعظمي توګه ترې ګټه واخيستل شي. که دا وخت په سمه توګه وکارول شي نو د ژوند مسير بدلولای شي وخت ضايع کول په حقيقت کې د خپل راتلونکي له منځه وړل دي. همدارنګه طلاب العلم او زده کوونکي بايد د خپل وخت څخه د ګټې اخيستلو لپاره منظم پلان او مهال وېش ولري. د درسونو تعقيب، د کورنۍ دندې په وخت ترسره کول، د درسونو تکرار او مطالعه بايد د هر طالب العلم او زده کوونکي د ورځني ژوند برخه وي. بريالي طلاب العلم او زده کوونکي هغه دي چې په دوامداره توګه د زده کړې په برخه کې هڅه کوي که يو درس سخت ښکاري بايد لا زيات تمرکز پرې وشي، ځکه همدا ستونزې د پرمختګ زينې دي. بل مهم ټکی دا دی چې زده کړه بايد يوازې د آزموينو لپاره ونه شي. اصلي موخه بايد دا وي چې په راتلونکي کې بايد موږ يو پوه متخصص او د خپل ملک او خلکو لپاره ګټور انسان وګرځو. مدرسه او ښوونځی د شخصيت جوړونې مرکزونه دي. په دې مرکزونو کې طلاب العلم او زده کوونکي نه يوازې علم زده کوي، بلکې د ژوند ارزښتونه لکه اخلاق، رښتينولي او نورو ته درناوی هم زده کوي.

په نوي ۱۴۰۵ ښوونيز کال کې طلاب العلم او زده کوونکو ته ښايي چې د پخوانيو منفي عادتونو لکه سستي، بې‌پروايی او وخت ضايع کولو څخه ځانونه وساتي.

پر ځای يې بايد مثبت فکر او کلکه اراده خپله کړي، خپلو درسونو ته متوجې شي او خپل وخت بې ځايه ضايع نه کړي، بايد پوه شي چې هره کوچنۍ لاسته راوړنه او پرمختګ د لويو برياوو پيل دی.

په پای کې بايد ووايو چې علم د يو ملت د بقا او پرمختګ تضمين دی. که موږ غواړو چې يو پياوړی، پرمختللی او باعزته ملک ولرو، نو بايد تعليم ته جدي پاملرنه وکړو. طلاب العلم او زده کوونکي د دې ملک د راتلونکي معماران دي؛ که هغوی نن ښه زده کړه وکړي، سبا به يو پرمختللی او په خپل ځان بسيا ملک ولرو.

## تهداب گزاری تعمیر جدید یک باب مدرسه دینی در ولایت بامیان

سنگ تهداب تعمیر جدید دارالحفاظ حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) در قریه غوره چی ولسوالی سیغان ولایت بامیان از سوی محترم قاری عنایت الله سهار رئیس معارف آن ولایت طی محفلی با اشتراک ده ها تن از علماءکرام، بزرگان و باشنده گان محل گذاشته شد.

تعمیر این مدرسه که با حمایت مالی باشنده گان محل در قطعه زمینی به مساحت یک جریب ساخته میشود دارای ۸ صنف درسی و یک اتاق اداری خواهد بود. به گفته مسئولان معارف ولایت بامیان با ساخت این مرکز زمینه آموزش برای ده ها تن از طلاب العلم فراهم میگردد.

## برگزاری سیمینار برای معلمان مکاتب در ولایت بامیان



در ادامه سیمینار های میتودیک که به هدف بهبود کیفیت آموزش برای معلمان مکاتب سراسر ملک از سوی وزارت معارف راه اندازی شده است، دور چهارم سیمینار آموزشی زیر نام "ترویج آموزش و یادگیری مؤثر" برای ۶۶ تن معلمان مکاتب ولسوالی ورس برای ۱۲ روز در ولایت بامیان برگزار شد. این سیمینار مطابق پلان ریاست معارف این ولایت با حمایت یک نهاد خیریه برگزار شد که هدف آن بلند بردن کیفیت آموزش میباشد.

## د پکتیکا ولایت په یو باب ښوونځي کې د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو

د پکتيکا ولايت سر روضې ولسوالۍ اړوند سلطانو لېسې لپاره د يوې همکارې ادارې په ملاتړ د څه کم ۲ مېليونه افغانيو په ارزښت د لمريزې برېښنا سيستم نصب او فعال شو.

د ياد ولايت پوهنې رئيس محترم مولوي عبدالوکيل خالد وايي، د يادې لېسې لپاره د برېښنا سيستم په نصب او فعالېدو سره د زده‌کوونکو لپاره د کمپيوټر او آزموينښتون د عملي زده کړو زمينه برابره شوې ده.

همدارنګه، د دې لېسې د مسئولينو او ښوونکو لپاره د ټکنالوژۍ په کارولو سره په اداري چارو کې لازمې آسانتياوې رامنځته شوې دي چې دا چاره له ځانګړې اهميت او حياتي ارزښت څخه برخمنه ده.

## مساعدت بیش از ۱۹ میلیون افغانی از سوی باشنده گان ولایت سرپل با معارف




مسئولان در ریاست معارف ولایت سرپل میگویند که در سال ۱۴۰۴ ش باشنده گان این ولایت در بخش های؛ ارتقای کیفیت تدریس، استخدام ۱۱۹ تن معلم رضاکار از سوی شوراهای مکاتب و مدارس، توسعه و ترمیم زیربناهای تعلیمی، ساخت دیوار های احاطه، اهدای زمین برای اعمار مکاتب و مدارس، تجهیز وسایل تخنیکی و اداری مکاتب، فعال سازی سیستم های برق آفتابی و آبرسانی و ایجاد فضای سبز در برخی نهاد های تعلیمی صورت گرفته است که مبلغ ۱۹ میلیون و ۱۶۴ هزار و ۸۵۱ افغانی میشود.

به گفته مسئولان با استفاده از امکانات یاد شده زمینه آموزش بهتر برای هزاران طلاب العلم و متعلم فراهم گردیده است.

رهبری وزارت معارف از بابت حمایت های مادی و معنوی باشنده گان ولایت سرپل و مردم معارف دوست این ولایت سپاسگزاری می نماید.

## په نیمروز کې د ښوونځیو له زده کوونکو سره د درسي توکو مرسته وشوه

د نيمروز ولايت مرکز زرنج ښار په ښوونځيو کې د يو خيريه بنسټ له لوري له ۱۰۰ تنو څخه زياتو بې‌وزلو زده‌کوونکو سره د ښوونځي د بکسونو او درسي مرستندويه توکو مرسته وشوه.

د نيمروز ولايت د پوهنې رياست مسئولينو د ياد بنسټ له مرستو څخه د مننې ترڅنګ ووېل، چې دغه پروګرام د بې‌سرپرسته او اړمنو ماشومانو د ملاتړ په موخه په منظم ډول دوام لري او هڅه کېږي، تر څو واقعي اړمن زده‌کوونکي د ياد پروګرام تر پوښښ لاندې راوستل شي.

## د زابل ولایت له پوهنې ریاست سره د قرطاسیې او درسي توکو مرسته وشوه

د زابل ولايت له پوهنې رياست سره د يوه همکار بنسټ په مرسته د شاوخوا ۴ مېليونه او ۷۲۸ زره او ۵۹۰ افغانيو په ارزښت د ۷۸۸ کڅوړو درسي توکو او قرطاسيې مرسته وشوه.

د زابل ولايت د پوهنې رياست مسئولينو د ياد بنسټ له مرستې د مننې تر څنګ ووېل چې ډېر ژر به مرستې شوي توکي په زده کوونکو ووېشي چې ددې موادو په وېش سره به د زده کوونکو د درسي توکو او قرطاسيې د کمښت ستونزه تر ډېره بريده حل شي.



## په غور ولایت کې د سواد زده کړې کورسونه پرانیستل شول

د غور ولايت پوهنې رياست له لوري د ياد ولايت مرکز فيروزکوه ښار اړوند جرې‌نديم په سيمه کې د سواد زده‌کړې دوه بابه کورسونه پرانيستل شول.

د يادو کورسونو په جوړېدو سره د غور ولايت د مرکز له ۵۰ څخه زياتو نالوستو او کم‌لوستو کسانو ته د زده‌کړې زمينه برابره شوې ده. د ياد ولايت پوهنې رياست مسئولين وايي نوموړي کورسونه په درسي وسايلو او اړينو آسانتياوو سمبال شوي دي، تر څو نالوستو کسانو ته معياري او اغېزمنې زده‌کړې وړاندې کړي.

## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له پیغامونو څخه

# تعلیم او تربیه

د نوي نسل د دیني او ورسره عصري زده کړو لپاره په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د پوهنې وزارت پراخ تشکیل لري او په سلګونو دیني او علمي مرکزونه يې فعال کړي دي، د ټولو یتیمانود روزنې، تعلیم او ښه کفالت لپاره په هر ولایت او یو شمیر ولسوالیو کې دارالایتامونه رامنځته شوې، چې د مستقل ریاست لخوا اداره کېږي. د خپلو اولادونو ښه تربیه کول، تعلیم پرې کول او دا فرصت ورته برابرول چې دیني زده کړې وکړي، د هر مسلمان ورور مکلفیت او وظیفه ده

د افغانستان اسلامي امارت کالنی

# تلاش امروز، موفقیت فردا

درس خواندن فقط نشستن در صنف و ورق زدن کتاب نیست، درس خواندن یعنی یاد گرفتن، کشف کردن استعدادها و آماده شدن برای فردای بهتر است و فرصتی است تا فکر خود را رشد بدهیم و توانایی‌های ما را بسنجیم. شاید گاهی درس‌ها سخت به نظر برسند، اما همین تلاش‌ها باعث می‌شوند در آینده موفق شویم.

هر شاگرد یک دنیا توانایی در وجود خود دارد. بعضی وقت‌ها ممکن است خود را با دیگران مقایسه کنیم و ناامید شویم، اما نیست؛ پرسیدن سوال و گوش دادن به معلم و دوستان هم بخشی از یادگیری است. هر سوال و تمرینی که انجام می‌دهیم، ذهن ما را قوی‌تر می‌کند و ما را برای زندگی آماده می‌سازد.

اشتباه کردن در یاد گرفتن طبیعی است و نباید ما را ناامید کند. هیچ کس بدون تجربه خطا، موفق نمی‌شود. اگر در امتحان نتیجه دلخواه نگرفتیم، به جای غصه خوردن، از آن درس بگیریم و دوباره تلاش کنیم. شکست‌ها به ما یاد می‌دهند تا



موفقیت فقط به استعداد نیست؛ پشت‌کار، تلاش روزانه و علاقه مهم‌تر هستند. هر روز که یک قدم کوچک بر می‌داریم، یک قدم به هدف‌ما نزدیک‌تر می‌شویم.

وقتی بدانیم چرا درس می‌خوانیم و چه آینده‌یی در انتظار ماست، انگیزه ما چند برابر می‌شود. یادگیری محدود به کتاب‌ها بهتر عمل کنیم.

زمان یکی از باارزش‌ترین دارایی‌هاست. اگر وقت خود را درست برنامه ریزی کنیم و برنامه منظم داشته باشیم، درس خواندن راحت‌تر و مؤثرتر می‌شود. تقسیم اوقات درست کمک می‌کند ذهن ما خسته نشود و مطالب بهتر در ذهن ما باقی بمانند.

هم‌صنفان هم نقش مهمی دارند. وقتی با دوستان خود کمک کنیم، ایده‌ها را به اشتراک بگذاریم و در یادگیری با هم همکاری کنیم، همه موفق‌تر می‌شوند. صحبت و پرسش در صنف باعث تقویت فکر و نوآوری ما می‌شود و درس خواندن را لذ ت بخش تر می کند .

باور داشتن به خود، انگیزه را بیشتر می‌کند. هر شاگرد باید بداند که توانایی رسیدن به موفقیت را دارد. مثبت‌اندیشی و پشت‌کار، راه رسیدن به هدف‌ها را هموار می‌کنند. حتی وقتی خسته هستیم، باید یادما باشد که تلاش امروز، نتیجه فردای ماست.

مدرس، معلم و خانواده هم می‌توانند انگیزه ما را بیشتر کنند. تشویق، توجه و یادآوری ارزش یادگیری، اعتماد به نفس ما را بالا می‌برد و باعث می‌شود با علاقه بیشتری درس بخوانیم.

هر قدم کوچک در مسیر یادگیری، ما را به فردای روشن نزدیک‌تر می‌کند. موفقیت زود به دست نمی‌آید؛ بلکه نتیجه تلاش، صبر و استمرار است. هر کتابی که می‌خوانیم، هر مسئله‌یی که حل می‌کنیم و هر سوالی که می‌پرسیم، ما را قوی‌تر و آماده‌تر می‌کند.

پس شاگردان عزیز، نگذارید سختی‌ها شما را ناامید کنند. هر روز فرصت تازه‌یی است برای یادگیری و پیشرفت. با انگیزه، تلاش و امید، می‌توانیم بر تمام چالش‌ها غلبه کنیم و به اهداف بزرگ خود برسیم. یادتان باشد: تلاش امروز، موفقیت فردا را می‌سازد.

# د وخت مدیریت: د زده‌کوونکو لپاره لارښود

په ننۍ نړۍ کې چې د زده‌کړې فشار، کورنۍ مسؤلیتونه، او ټولنیز فعالیتونه زیات شوي، د وخت مدیریت یو حیاتي مهارت ګرځیدلې ده. زده‌کوونکي چې خپل وخت په سمه توګه مدیریت کوي، نه یوازې ښه زده‌کړه کوي، بلکې ذهني آرامتیا او د ژوند متوازن حالت هم ترلاسه کوي.

**وخت مدیریت څه شی دی؟**

وخت مدیریت هغه مهارت دی چې انسان ته اجازه ورکوي خپل کارونه، زده‌کړې او تفریح په داسې ډول تنظیم کړي چې تر ټولو غوره نتیجه ترلاسه کړي. په ساده ټکو، دا د وخت پلان جوړول او د هغو پر بنسټ عمل کول دي.

**د وخت مدیریت مهمې لارې**

**هدف ټاکل:** هره ورځ او هره هفته ځان ته مشخص هدفونه وټاکئ. د مثال په ډول، د یوې امتحان لپاره د مطالعې جدول جوړول.

**لومړیتوب ورکول:** مهم کارونه لومړی ترسره کړئ. د کوچنیو کارونو پرځای هغه کارونه ترسره کړئ چې مستقیم ستاسو زده‌کړې یا راتلونکي لپاره ګټور وي.

**وخت جدول جوړول:** د ورځې لپاره یوه دقیقه په دقیقه جدول جوړ کړئ. د مطالعې، استراحت، او تفریح وختونه مشخص کړئ.

**له وخت ضایع کولو ډډه کول:** غیر ضروري فعالیتونه لکه ټولنیزې شبکې یا بې هدفه ګرځیدل کم کړئ.

**وقفه او استراحت:** د اوږدې مطالعې پر مهال لنډې وقفې واخلئ. دا ستاسو تمرکز لوړوي او ذهن تازه ساتي.

وخت مدیریت یوازې د درسونو لپاره نه، بلکې د ژوند په ټولو برخو کې مهم دی. هغه زده‌کوونکي چې وخت په سمه توګه مدیریت کوي، د فشار کچه کمه وي، لاسته راوړنې زیاتې وي، او په ځان باور هم لوړ وي.

نن د خپلې ورځې یوه دقیقه هم مه ضایع کوئ. وخت ستاسو تر ټولو ارزښتناک سرمایه ده.

ترتیب کوونکی: عبدالواسع سعادت

## لنډ خبرونه

### لوګر

باشندگان علم‌دوست ولایت لوگر در سال ۱۴۰۴ ش به ارزش بیش از ۲۵ میلیون افغانی به معارف در این ولایت کمک کرده اند.

این کمک‌ها در هماهنگی با ریاست معارف و آمریت‌های معارف مرکز و ولسوالی‌های ولایت لوگر، از سوی مردم علم‌دوست صورت گرفته است که شامل؛ وقف زمین برای احداث مدارس دینی و مکاتب، اعمار مراکز تعلیمی، ترمیمات ساختمان های نهاد آموزشی، نصب سیستم های آبرسانی و برق و تجهیز وسایل درسی و تخنیکی وغیره می باشد.

### لغمان

برای معلمان ۱۴ مکتب شهر مهترلام مرکز ولایت لغمان، سیمینار سه روزه‌ای زیر نام «آموزش مؤثر» از سوی اعضای علمی بخش انکشاف مسلکی معلمین، با حمایت مالی یک نهاد همکار برگزار شد.

در این سیمینار روان‌شناسی کودک، میتودولوژی تدریس، وسایل کمک آموزشی، استفاده از مواد اضافی ماحول برای تدریس عملی دروس و شیوه‌های معیاری انتقال مؤثر درس به شاگردان آموزش به بحث گرفته شد.

### بادغیس

د ښوونځیو د شوراګانو ۷۸ غړو لپاره د عامه پوهاوي دوه ورځنی سیمینار ترسره شو.

د دغه پروګرام له جوړېدو څخه موخه د ښوونځیو شوراګانو د غړو د پوهې کچې لوړول دي، څو په ښوونځیو کې د ښوونیز او روزنیز بهیر کیفیت ښه شي.

د یادونې وړ ده چې دا سیمینار د بادغیس پوهنې ریاست له خوا او د یوه همکار بنسټ په همکارۍ ترسره شوی دی.

### کابل

د کابل ښار پوهنې ریاست له ۳۵۰ تنو کډوالو ماشومانو څخه د تعلیمي سویې د تثبیت آزموینه واخیسته.

یاده آزموینه چې د کابل ښار پوهنې ریاست د مسئولینو په حضور کې ترسره شوه؛ ټاکل شوې ده چې یاد زده کوونکي د هغوی د تعلیمی پوهې سره سم د زده‌کړو د دوام لپاره د کابل ښار ښوونځیو کې اړوندو ټولګیو ته وروپېژندل شي.

### خوست

د یوې همکارې ادارې په مالي ملاتړ ۳۹۰ تنو ښوونکو ته د «اغېزمن تدریس او زده‌کړې ترویج» تر سرلیک لاندې روزنیز سیمینار ترسره شو. همداراز په خوست ولایت کې له ۱۵۰ تنو مجاهدینو څخه د تعلیمي سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه. چې له دې آزموینې وروسته به یاد کسان ددوی د تعلیمی سویې سره سم د خوست ولایت ښوونځیو بېلابېلو ټولګیو ته وروپېژندل شي.

### بامیان

ریاست معارف ولایت بامیان با حمایت یک نهاد خیریه سیمینار آموزشی یک‌روزه را تحت عنوان «مدیریت آموزشی مؤثر» در مقر این ریاست برگزار کرد.

در این سیمینار ۱۰ تن کارمندان اداری هسته مرکزی ریاست معارف ولایت بامیان اشتراک کرده بودند و در رابطه به شیوه‌ها و اصول مدیریت نوین آموزش دیدند.

### لوګر

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د معلوماتو له مخې په یاد ولایت کې د ۴۹ بابه ښوونځیو د ودانیو او اړوندو ملحقاتو د بیارغونې ۹۸ سلنه چارې بشپړې شوي چې ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. مسئولین زیاتوي چې د یادو پروژو د بیارغونې چارې شاوخوا ۷ میاشتې وړاندې د ۳۶ میلیون افغانیو څخه په زیات لګښت د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته پیل شوې دي چې د یادو پروژو په بشپړیدو سره به ددې ولایت شاوخوا ۳۰ زره زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال برابر شي.

# Marif
Weekly

کتنپلاوی:
شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا: محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر: ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 322 /2026


# افتتاح تعمیر جدید یک باب مدرسه دینی در ولایت غزنی

تعمیر جدید مدرسه دینی محمدیه در قریه برکت از مربوطات ولسوالی خواجه عمری ولایت غزنی طی مراسمی با حضور مسئولین معارف، علماءکرام و شمار زیادی از باشندگان محل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

محترم الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی رئیس معارف ولایت غزنی در محفل که به همین مناسبت برگزار شده بود گفت: این تعمیر که به ارزش حدود ۳.۷ میلیون افغانی در یک طبقه اعمار شده است دارای ۶ صنف درسی، یک اتاق اداری، سیستم‌های آبرسانی و برق آفتابی می‌باشد که برای بیش از ۲۵۰ تن طلاب، زمینه مناسب و مصئون آموزش را فراهم می‌سازد. وی همچنان در رابطه به ارزش کسب علوم دینی و عصری صبحت نموده و از حاضران خواست تا فرزندان شان را به مدارس و مکاتب بفرستند.

در این حال شماری از باشنده‌گان محل نیز از ساخت این مدرسه ابراز خرسندی نموده و فعالیت‌های وزارت معارف را در راستای گسترش دامنه علم در ملک ستودند و از برنامه های وزارت معارف برای تحکیم نظام آموزشی حمایت نمودند.

## په سرپل ولایت کې د ۳۰۰ تنو مجاهدینو څخه د تعلیمي سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه

د سرپل ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې په دې ولایت کې یې د شاوخوا ۳۰۰ تنو مجاهدینو څخه د هغوی د تعلیمی سویې د تثبیت په موخه آزموینه اخیستې ده.

د یاد ولایت پوهنې مسئولینو په وینا یاد داوطلبان چې په تېرو کلونو کې په جهادي فعالیتونو کې د بوختیاوو له امله یې زده‌کړې نیمګړې پاتې شوې وې اوس دزده کړې د فرصتونو په برابرېدو سره کولای شي خپلې زده کړې بشپړې کړي.

هغوی زیاته کړه چې د پوهنې وزارت د کړنلارې له مخې به یاد مجاهدین د هغوی د تعلیمي سویې سره سم د ښوونځیو له اووم څخه تر دولسمو ټولګیو کې شامل شي.

د یادونې وړ ده چې په تېرو کلونو کې هم په زرګونو هغه مجاهدین چې د جهادي فعالیتونو له امله یې زده کړې نیمګړې پاتې شوې وې د پوهنې وزارت د ځانګړې کړنلارې له مخې له هغوی څخه د تعلیمی سویې آزموینه اخیستل شوې او ددوی د سویې سره سم د ښوونځیو په بېلابېلو ټولګیو کې شامل شوي دي او اوسمهال خپلې زده کړې تر سره کوي او دا لړۍ دوام لري.




## افتتاح تعمیر جدید آمریت معارف ولسوالی یمگان ولایت بدخشان

کار ساخت تعمیر آمریت معارف ولسوالی یمگان ولایت بدخشان که چندی پیش به کمک مالی کارکنان معارف و پرسونل تعلیمی مکاتب آن ولسوالی آغاز شده بود پس از تکمیل کار ساختمانی آن از سوی مسئولین معارف، استادان و باشنده گان آن ولسوالی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مسئولان در ریاست معارف ولایت بدخشان میگویند که این ساختمان دارای ۴ اتاق اداری می باشد که مجموعاً ۱ میلیون و ۵۰ هزار افغانی هزینه برداشته است. به گفته مسئولان با ساخت این تعمیر سهولت های لازم برای کارمندان معارف این ولسوالی فراهم شده است.



## په بادغیس ولایت کې له مجاهدینو څخه د تعلیمي سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه

د بادغیس ولایت پوهنې ریاست د هېوادوالو لپاره د تعلیمي آسانتیاوو برابرولو په لړ کې له هغو ۲۱۰ تنو مجاهدینو څخه چې په تېرو کلونو کې د جهادي فعالیتونو له امله یې زده کړې نیمګړې پاتې شوې وې، د تعلیمي سویې د تثبیت آزموینه واخیسته.

د بادغیس ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي، نوموړي داوطلبان چې د جهادي فعالیتونو له امله د زده‌کړو له بهیر څخه پاتې شوي وو، اوس د تعلیمي فرصتونو په برابرېدو سره کولای شي، خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړي.




هغوی زیاته کړه د پوهنې وزارت د ځانګړې کړنلارې له مخې به د یاد بهیر ګډونوال د هغوی د تعلیمي کچې سره سم د ښوونځیو له اووم تر دولسمو ټولګیو ته جذب شي.

## گذاشتن سنگ تهداب تعمیر جدید آمریت معارف ولسوالی ساغر ولایت غور

سنگ‌تهداب‌ساخت‌تعمیر جدید آمریت معارف ولسوالی ساغر ولایت غور با حضور مسئولان معارف و شماری از مقامات ادارات محلی و باشنده گان این ولسوالی گذاشته شد.

آمر معارف ولسوالی ساغر این ولایت گفت این ساختمان با داشتن ۸ باب اتاق اداری با دیگر ملحقات آن به هزینهٔ بیش از ۵۰۰ هزار افغانی با حمایت و همکاری اعضای معارف، مسئولان محلی و باشنده‌های ولسوالی یادشده ساخته می‌شود.

وزارت معارف از باشندگان ولایت غور در خصوص حمایت های شان از نظام آموزشی کشور استقبال می کند.





د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت

### خبرتیا

**د زده‌کوونکو د فراغت د شهادتنامې قیمت په اړه**

د پوهنې وزارت د نتایجو او شهادتنامو ریاست ژمن دی، چې د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو، دیني مدارسو، د ښوونکو د روزنې مرکزونو او د تعلیمي بنسټونو د ثانوي او عالي دورو فارغانو ته د یاد وزارت د ځانګړې لایحې له مخې د اداري پړاوونو خدمتونه په ښه کیفیت وړاندې او د شهادتنامو چټک وېش برابر کړي.

له همدې امله، د لا زیاتې روڼتیا او همدارنګه د یادو تعلیمي مرکزونو د فارغانو لپاره د شهادتنامو د وېش په بهیر کې د هر ډول ناسمې استفادې څخه مخنیوي په موخه، پوهنې وزارت، د شهادتنامو وروستی قیمت په لاندې ډول اعلانوي:

| شمېره | د سند نوم | د سند ډول | د سند بیه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ثانوي/ عالي دورو شهاتنامې | نوې | ۲۰۰ افغانی | - |
| ۲ | | تجدیدي | ۲۰۰ افغانی | - |
| ۳ | | مثنی | ۴۰۰ افغانی | د افغان اعلاناتو پارچه اړینه ده |

د اړتیا په صورت کې، د شهادتنامو غوښتونکي کولای شي، خپل شکایتونه د لاندې شمېرو له لارې د مسئولینو تر غوږونو ورسوي: د اړیکې شمېره: 0202512748 واټس‌اپ شمېره: 0786327000

د نشراتو او عامه اړیکو ریاست

### اطلاعیه

**در ارتباط به قیمت شهادت نامه فراغت شاگردان**

ریاست نتایج و شهادتنامه های وزارت معارف متعهد است که برای فارغان مکاتب تعلیمات عمومی، مدارس دینی، تربیه معلم و دوره های ثانوی و عالی نهاد های تعلیمی بر اساس لایحه نافذه این وزارت، خدمات مراحل اداری و امور باکیفیت و توزیع سریع شهادتنامه را ارائه بدارد.

بناء اینک به هدف شفافیت بیشتر و هم به منظور جلوگیری از هرنوع استفاده های نادرست و سوء در توزیع شهادتنامه ها برای فارغان مراکز تعلیمی یاد شده، وزارت معارف قیمت نهایی شهادتنامه ها را قرار آتی اعلان می دارد:

| شماره | نام سند | نوعیت سند | قیمت سند | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شهادتنامه دوره‌های ثانوی و عالی | جدید | ۲۰۰ افغانی | - |
| ۲ | | تجدیدی | ۲۰۰ افغانی | - |
| ۳ | | مثنی | ۴۰۰ افغانی | پارچه افغان اعلانات ضروری است |

در صورت ضرورت، متقاضیان شهادتنامه، می توانند شکایات شان را از طریق شماره های: برای تماس 0202512748 و وتسپ 0786327000 به سمع مسئولان برسانند.

ریاست نشرات و روابط عامه

**د علم زده کړه د پرمختګ کلي ده، دې موخې ته د رسېدو لپاره راتلونکی نسل د علم او پوهې په ګانه سمبال کړئ!**